نيکي ښه اخلاق دي، او ګناه هغه څه ده چې په زړه کې دې شک او تردد وي او نه غواړې چې خلک پرې خبر شي

له نواس بن سمعان رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «نیکي ښه اخلاق دي، او ګناه هغه څه ده چې په زړه کې دې شک او تردد وي او نه غواړې چې خلک پرې خبر شي». او له وابصة بن معبد رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم، نو هغه راته وویل چې «ته راغلې څو د نېکۍ او ګناه په اړه پوښتنه وکړې؟» ما وویل: هو، هغه وفرمایل: «زړه دې وپوښته، نېکي هغه ده چې نفس پرې آرامه وي او زړه پرې سکون ومومي، او ګناه هغه ده چې په نفس کې دې ورسره شک او په زړه کې دې تردید وي، که څه هم خلکو یې د (رواوالي) فتوا درکړي وي».

[صحیح دی] [لومړی حدیث: مسلم روایت کړی دی، او دوهم حدیث: احمد او الدارمي روایت کړی دی]

نبي صلی الله علیه وسلم د نېکۍ او ګناه په اړه داسې خبر ورکړی چې: د نېکۍ تر ټولو ستره ځانګړنه له تقوا سره د الله تعالی په وړاندې ښه اخلاق دي، او د خلکو سره د هغوی د اذیت پر وړاندې زغم، لږه غصه، ورین مخ، ښه وینا، اړیکې پالل، اطاعت، نرمي او مهرباني، د خلکو سره ښه ژوند تېرول او ملګرتیا ده او دا چې نېکي هغه څه دي چې زړه او نفس پرې آرامه شي. او ګناه هغه څه ده چې په نفس کې ورسره شک او تردید راځي، پرته لدې چې سینه پرې پراخه شي، او په زړه کې تري وېره وي چې دا ګناه ده، او نه غواړې چې دغه عمل خلکو ته ښکاره شي، ځکه چې دا عمل د خلکو له نظره بد دی، په ځانګړې توګه د هغو خلکو له نظره چې نمونه یي او د اخلاقو له اړخه بشپړ وي، ځکه نفس طبیعتاً غواړي چې خلک یې ښې ګڼې وویني، نو که د ځینو ګڼنو په اړه یې د خلکو خبریدل ښه نه ګڼل، نو هغه ګناه ده او خبر پکې نشته؛ که څه هم خلکو یې په اړه فتوا درکړي وي، لدې امله تر هغه پورې یې په فتوا عمل مه کوه چې ستا په زړه کې یې په اړه د شک او شبهې نښې وي، ځکه چې تر څو پورې شبهه پر ځای او صحیح وي او مفتي په ناپوهۍ کې فتوا درکړي وي نو دا فتوا یې له منځه نشي وړلای؛ خو که فتوا پر یو شرعي دلیل ولاړه وه، نو بیا پر فتوا غوښتونکي واجب دي چې رجوع ورته وکړي، که څه هم سینه یې ورته پراخه شوي نه وي، یعنې زړه یې نه وي منلي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66540

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee